# د واوري ورښت بیړنی حالت

په لاندي پوښتنو او ځوابونو کي تاسو کولی شئ په البني ښار کي د واوري د ورښت د بیړني حالت د سمبالښت په اړه معلومات ترلاسه کړئ. د لازیاتو پوښتنو په صورت کي، DGS سره په (518) 434-CITY (2489) شمیره اړیکه ونیسئ.

*پوښتنه: د واوري ورښت د بیړني حالت په اعلانولو کي ښاروالي کوم عنصر یا دلیل په پام کي نیسي؟*

- د واوري د ورښت بیړنی حالت د سړکونو د وضعیت په پام کي نیولو سره اعلانیږي. د واوري مجموعي غونډیدنه یا امبار د بیړني حالت یوازي یو فکتور بلل کیږي، خو د ښاروالی چاروکي د واوري هغه کچه هم په پام کي نیسي چي له توفان مخکي پر سړکونو پرته وي. هغوی همدارنګه د لازیاتي واوري د ورښت وړاندوینه هم په پام کي نیسي. بل فکتور د واوریني ورځي او وریسي نورو ورځو د حرارت درجه بلل کیږي. د ښاروالی بله لویه اندیښنه پر سړکونو د خوندي ګرځیدو راګرځیدو تامینول او همدارز پر هغو سړکو د نقلیه وسایطو پارکینګ ته د زمیني برابرول دي چي په داسي حالاتو کي یکي د پارکینګ امکانات لږ وي.

*پوښتنه: د ښاروالي چاروکي ولي د توفان له ختمیدو وروسته د واوري د ورښت د بیړني حالت اعلان کوي؟*

- کله چي واوره وریږي، زمور ترتولو مهم لومړیتوب دا دی چي د بیړني حالت نقلیه وسایطو او همدارز د نورو تولو نقلیه وسایطو د ګرځیدو لپاره سړکونه پرانیزو. مهمه ده چي د واوري د ورښت پرمهال له تولو موټر چلوونکو څخه وغوښتل شي ترڅو پر سړکونو له ګرځیدني ډډه وکړي، خو ادا پریکړه په هغو ښارونو کي ګرانه وي چي ډیر نږدي نور ښارونه او سیمي لري او اوسیدونکي يي د سړکونو غاړي پارکینګونو اتکا کوي.
- د واوري د ورښت بیړنی حالت اصلا د واوري د پاکولو او هغو ستونزمنو سیمو ته د رسیده کي په موخه اعلانیږي چي د توفان په جریان کي فعالیت نشي کولی. د واوري پاکولو پرمهال ښاروالی خپلو قراردادیانو ته بلنه ورکوي ترڅو د واوري د ورښت پرمهال د ښار د پاکولو مسوولیت په غاړه واخلي چي ددي قراردادیانو د وسایلو لګښت او کاري ځواک تنخا لوړه وي.
- د واوري د ورښت د بیړني حالت پارکینګونه باید د بیړني حالت له اعلانیدو مخکي پاک شي چي دا کار د واوري د ورښت تر بندیدو مخکي امکان نلري.

*پوښتنه: د واوري ورښت له پیل څخه څومره موده مخکي د ښاروالی چاروکي خلکو ته خبر ورکوي؟*

- موږ هڅه کوو ترڅو خلکو ته کافي وخت ورکړو ترڅو هغوی وکولی شي خپل پلان مخکي تر مخه جوړ کړي. موږ ۱۲ ساعته مخکي له دي چي پر پارکینګونو محدودیت وضع شي، خلکو ته خبر ورکوو.

*پوښتنه: د واوري ورښت په بیړني حالت کي باید خپل موټر چیرته پارک کړم؟*

- ښاروالي په لاندي پارکینګونو کي د پارکینګ امکانات برابروي:

***Arbor Hill / Sheridan Hollow***

۱. د پارکینګ سیمه، د هاربر هیل د فوټبال میدان (N. Lark St.)
۲. 230 Colonie St. (د لوبو د میدان پارکینګ)
۳. 178 Colonie St. (د لوبو د میدان پارکینګ)
۴. د Ten Broeck Mansion پارکینګ

***Pine Hills***

۱. Ridgefield Park (پارټریج سړک)
۲. Woodlawn Park Little League
۳. Waterson Park (Westland Hills)
د Colvin Ave. یا Austain Ave. له لاري ننوځئ
۴. Washington Park (تول سړکونه او د پارکینګ سیمي)

***South End***

۱. Krank Park
۲. Franklin St. (ختیځ خوا ته د Schuyler St. او Bassett په منځ کي)
۳. Lincoln Park (تول داخلي سړکونه او پارکینګونه)
۴. د Frisbee Ave پارکینګ
(د Second Ave. او McCarty Ave په منځ کي)

***Center Square / Mansion***

۱. 77 Philip St. (د لوبو میدان)
۲. 88 Philip St (د لوبو میدان)
۳. 179 Myrtle Ave (د سیمي باغونو ته مخامخ)

***North Albany***

۱. د Hackett Park پارکینګ چي N. Albany Post ته مخامخ موقعیت لري

***West End***

۱. Bleecker Stadium (پارکینګونه او سړکونه)
۲. Tivoli Park (Judson St ته مخامخ)
د Livingston Ave شمال خواته




*پوښتنه: د واوري ورښت بیړني حالت کي د پارکینګ قوانین کوم دي؟*

- کله چي د واوري بیړنی حالت اعلانیږي، په ښار کي د پارکینګ تول قوانین او مقررات په موقت ډول ځنډول کیږي.
***(خو سره له دي هم تاسو نشی کولی د اور وژني د وسایطو لاره، پیاده رو او له اجازې پرته د معیوبینو د پورته کیدو او ښکته کیدو لاره بنده کړئ.)***
- د واوري ورښت بیړني حالت په پیلیدو سره باید تاسو د ۲۴ ساعتونو لپاره خپل موټر د سړک ختیځ خواته انتقال کړئ (پرته له دي به تاسو ته تکیټ درکول کیږي او یا به ستاسو موټر ښکل (تو) کیږي.
- د بیړني حالت له پیل څخه د لومړیو ۲۴ ساعتونو وروسته باید د پاتي ۲۴ ساعتونو لپاره خپل موټر د سړک لویدیځ خوا ته انتقال کړئ.

*پوښتنه: که چیري د واوري ورښت بیړني حالت په ترڅ کي زما موټر وښکل شي (یا تو شي)، څه باید وکړم؟*

- د موټر د ښکل کیدو (تو کیدو) په صورت کي باید د البني پولیس دیپارټمنت سره په 438-4000 شمیره اړیکه ونیسئ او د خپل موټر د موقعیت پوښتنه وکړئ.




**د واورې ورښت په بیړني حالت کې، د کثافاتو د انتقال وسایط به په عادي ډول فعالیت کوي.**





# کله چې په البني ښار کې واوره ورېږي...

## د البني ښار ميلمنو او اوسيدونکو لپاره لارښود




**دې پوښتنو ته ځوابونو او لازيات معلومات دلته موندلی شئ**

---

پوښتنه: ښاروالي ولي د شپې پرمهال واوره پاکوي؟

- د واورې ډيره برخه د شپې پرمهال پاکيږي ځکه چې ترافيک لږ وي او د پاکولو لړۍ ته خنډ نه پېښوي. کارګران هم د شپې پرمهال خوندي وي.

*پوښتنه: ښاروالي ولي د واورې د بيړني حالت په ترڅ کې له ټولو سړکونو واوره نه پاکوي؟*

- ښاروالي له ممنوعه سړکونو، اصلي سړکونو او په بيړني حالت کې د تګ راتګ لارې پاکوي.

*پوښتنه: ښاروالي څرنګه خلکو ته د واورې ورښت بيړني حالت په اړه خبر ورکوي؟*

- د واورې ورښت بيړنی حالت په لاندې ډول اعلانيږي:
  - خبري رسنی لکه راډيو او تلويزيون
  - د پيامونو تختې او لوحې چې د ښار په ګوټ ګوټ کې لګول شوي دي
  - د ښاروالی ويب پاڼه www.albanyny.gov
  - د واورې ورښت ۲۴ ساعته ټيلفوني کرښه 518-476-SNOW(7669)
  - فيسبوک/د البني پوليس ډيپارټمنټ
  - ټويټر/د البني پوليس ډيپارټمنټ
  - www.nixle.com ويب پاڼه
- سربيره پردې، د البني پوليس ډيپارټمنټ هڅه کوي ترڅو د موټرو له ښکلو (ټو کولو) مخکې د سيمې د اوسيدونکو کورونو ته ورشي، د هغوی دروازې وټکوي او له دې لارې خلکو ته اعلان کړي چې خپلې موټرې په مناسب ځای کې پارک کړي.

*پوښتنه: د سيمې اوسيدونکي څرنګه کولی شي د واورې ورښت بيړني حالت کې مرسته وکړي؟*

- د ښاروالی د مقررې په اساس، د کورونو مالکان د پياده رو د پاکولو مسووليت په غاړه لري. د کور شا او خوا نږدې ټول پياده رونه بايد د توفان له ختميدو وروسته ۲۴ ساعتونو په لړ کې پاک شي. که دا کار ونه شي، نو نوموړي پياده رونه به پاک او د کور خاوند ته به د جريمې ټکټ او همدارنګه د پاکولو د لګښت بل ليږل کيږي.
- **د معيوبينو ځانګړي شوي لارې هم په دې مقرره کې شامليږي او تاسو بايد نوموړي لارې د ۲۴ ساعتونو په لړ کې پاکې کړئ.**
- کور ته نږدې د اطفايي د اور وژني نل شا او خوا پاکه کړئ. دا کار تاسو او ستاسو سيمه خوندي ساتي.
- له پياده رو، پارکينګ يا د موټرو تګ راتګ لارو څخه پر سړکونو او لويو لارو د واورې غورځول غير قانوني کار دی. ددې کار ترسره کوونکي جريمه کيږي.

---

## *د بېل يا بيلچې په واسطه د واورې د پاکولو مهم ټکي*

- د بيل يا بيلچې په واسطه د واورې پاکول ډير ورو پيل کړئ او ورو ورو دوام ورکړئ (وړانديز: ۵-۷ دقيقې پاکول وروسته ۳ دقيقې دمه وکړئ). د واورې پاکول يو ډير ستومانوونکی کار دی او پر زړه ډير فشار اچوي.

* د واورې پاکول وختي پيل کړئ، نوی وريدلې واوره د ويلې شوې او انبار شوې واورې پر پرتله سپکه وي. ژر ژر دمه وکړئ. واوره تل ټيله کړئ او له پورته کولو يې ډډه وکړئ.

* واوره سمه او خوندي پورته کړئ او د خپلې نری ملا حفاظت وکړئ:

۱. د توازن د ساتلو لپاره، دواړه پښې نږدې وساتئ.
۲. بيل يا بيلچه خپل وجود ته نږدې وساتئ.
۳. دواړه لاسونه له يو بل ليرې وساتئ ترڅو قوت يې ډير وي.
۴. له زنګنونو ځان ټيټ کړئ او نری ملا څخه له ټيټيدو ډډه وکړئ.
۵. د بيل د پورته کولو پرمهال د نس عضلات ټينګ وساتئ.
۶. د بيل د پورته کولو پرمهال له تاويدو ډډه وکړئ.
۷. واوره ليرې مه غورځوئ بلکه څو ګامه مخکې يې يوسئ او بيا يې وغورځوئ.
۸. د ډيرې واورې په صورت کې، لږه واوره (۲-۱ انچه) په بيل کې پورته کړئ.

* که چيرې له فزيکي پلوه د خپل کور د شا او خوا پاکولو توان نلرئ، زده کوونکو ته پيسې ورکړئ او يا هم له داوطلبانه خدمتونو کار واخلئ.

---

تاسو کولی شئ د واورې بيړني حالت ۲۴ ساعته
**ټيلفوني کرښې (7669) 476-SNOW**
سره اړيکه ونيسئ
د عمومي خدمتونو اداره
**434-CITY (2489),**
***او يا لاندې ويب پاڼې ته ورشئ***
**www.albanyny.gov**
**که تاسو غواړئ چې آنلاين دې کتابګوټي ته لاس رسی ولرئ، مهرباني وکړئ دې ويب پاڼې ته لاړ شئ:**
**www.albanyny.gov/languageaccess**